# آیا زه تاسو ته د تر ټولو لویو ګناهونو څخه خبر درنکړم

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «آیا زه تاسو ته د تر ټولو لویو ګناهونو څخه خبر درنکړم»؟ درې ځلې (یې دا خبره تکرار کړه) هغوی وویل: هو (یعنې خبر راکړه) اې د الله جل جلاله رسوله! ویې فرمایل: د الله سره شرک کول او د مور او پلار نافرماني» او کېناست، پداسې حال کې چې تکیه یې وهلې وه، نو ویې فرمایل: « خبردار اوسئ د دروغو د ګواه په اړه» (یعنې ځان ترې وساتئ)، وايي: تر هغه پورې یې دا خبره تکراروله تر دې چې مونږ وویل: کاش چې چپ شوی وای.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته د لویو ګناهونو په اړه خبر ورکوي، نو له دې دريو ګناهونو يادونه يې وکړه: 1. له الله جل جلاله سره شرک کول: او شرک له الله جل جلاله پرته بل چاته د هر ډول عبادت کول او د غير الله سره په الوهيت، ربوبيت، اسماء او صفاتو کې د الله جل جلاله برابرولو ته وايي. 2. د مور او پلار نا فرماني: دا د مور او پلار هر ډول ازارول دي، هغه که په وينا سره وي يا په کړنه، او د هغوی سره نيکي پرېښودل دي. 3. دروغ وينا، چې له جملې څخه يې د دروغو ګواهي ده، او د دروغو ګواهي له هغه دروغ وينا څخه عبارت ده چې موخه ترې د بل چا حق د پښو لاندې کول دي؛ چې يا يې مال واخيستل شي او يا يې په عزت، ناموس او داسې نورو تيری وشي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په تکراري ډول له دروغ وينا څخه وېرول کړي تر څو يې بدوالي او په ټولنه کې ناوړه پايلو ته د خلکو پام راواړوي، تر دې چې د زيات تکرار له امله صحابه کرامو وويل چې کاش چپ شوی وای؛ پر هغه د ترحم له امله او د هغه کار د بدوالي له امله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زوروي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2941

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee